د افغانستان اسلامی جمهوریت
مالیی وزارت

# شتمنی

د مالیې وزارت اونیزه خپرونه

زموږ مالیه — زموږ هېواد — زموږ راتلونکی

شماره یک صد و هفتاد چهارم | یک شنبه | ۱۰ عقرب سال ۱۳۹۸ | سال تاسیس : ۱۳۹۴


## عناوین مهم

دمالیې وزارت سرپرست: زموږ پراختیایي پروګرامونه باید داسې تنظیم شي، چې له اقتصادي ودې، کارموندنې او بېوزلۍ له کمولو سره مرسته وکړي



پنجمین جلسهٔ تخنیکی شورای عالی زیربناء دایر گردید



حکومت او نړیوال همکاران باید طبیعي پېښو ته د رسېدو لپاره اغېزمن پروګرامونه تړلاس لاندې ونیسي



سرپرست وزارت مالیه با سفیر جدید جمهوری مردم چین مقیم کابل ملاقات تعارفی نمود



# د مالیې وزارت سرپرست: زموږ پراختیایي پروګرامونه باید داسې تنظیم شي، چې له اقتصادي ودې، کارموندنې او بېوزلۍ له کمولو سره مرسته وکړي

**محترم پروفیسور د مالیې وزارت سرپرست او د زېربنا په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي،د۱۳۹۸المریزکال د لړمنۍ میاشتې په ۴ مه نېټه د زیانمننتیا، امنیت او پراختیا په چارو کې د نړیوال بانک له ځانګړي استازي ښاغلي البرټ جرارډ کونډرز، سره په مالیه وزارت کې ولیدل.**

په دې لیدنه کې د زیانمننتیا، امنیت او پراختیا په چارو کې د نړیوال بانک ځانګړي استازي، د خپلې اداري د کارکړنو د ځرنګوالي او نوعیت په اړه د مالیې وزارت سرپرست ته معلومات ورکړل. نوموړي زیاته کړه، چې نړیوال بانک په زیانمنو، امنیتي ستونزو لرونکو، ناسمو اقتصادي او پراختیایي چارو هیوادونو کې خپل پروګرامونه په داسې ډول ترتیبوي، چې د پرمختګ ترڅنګ له امنیت سره هم مرسته وکړي.

ښاغلي کوینډرز، وویل چې موږ باید د دولت سره داسې پروګرامونه تړلاس لاندې ونیسو، چې د سیاسي ثبات ترڅنګ ورو ورو خان بسیاینې ته له رسېدو سره هم مرسته وکړي.د زیانمننتیا، امنیت او پراختیا په چارو کې د نړیوال بانک ځانګړي استازي، په وینا د پراختیا او امنیتي راتلونکي پروګرامونه یو له بل سره تړلي وي. نوموړي زیاته کړه، چې نړیوال بانک اقتصادي پروګرامونه د دولت د ملي لومړیتوبونو په اساس تنظیم او همغږي کوي.





د مالیې وزارت سرپرست وویل، چې موږ د نړیوال بانک همکاریو غوښتونکي یو، څو وکولی شو په تدریجي ډول اقتصادي خان بسیاینې ته ورسېږو. نوموړي زیاته کړه، موږ د افغانستان د ثبات لپاره واره ولې اغېزمن ورانديزونه لرو او موږ هڅه کوو، څو په هیواد کې اقتصادي زونونه ولرو او د بېلابېلو سیمو له ورتیاوو په کټه اخیستنه متوازنې پراختیا ته ورسېږو.

ښاغلي قیومي وویل، چې زموږ پاملرنه سیمه ایزې نښلونې ته ده، موږ غواړو د سیمې د وصل ټکی شو، څو د سیمې د پراختیا په مېکانیزم کې برخه ولرو. هغه څرګنده کړه، چې د ګنو اقتصادي پروګرامونو ترڅنګ، طبیعي سرچینې د افغانستان د پرمختګ کیلی ده، ولې له هغو ګټه اخیستنه قوانینو، زېربنا، امنیت او ور بستر ته اړتیا ده او موږ یې د برابرولو په حال کې یو.

د افغانستان لپاره د نړیوال بانک رئیس ښاغلي هنري کرالي، چې په دې ناسته کې شتون درلود وویل، چې راتلونکي پلانونه باید په داسې ډول ترتیب او پلي کړو، چې اغېزمنتوب او کتورتوب یې لوړ حد ته ورسېږي.

د مالیې وزارت سرپرست وویل، چې پراختیایي پروګرامونه مو باید په داسې ډول تنظیم شي، چې له اقتصادي ودې، کارموندنې او بېوزلۍ له کمولو سره مرسته وکړي.


د امتیاز خاوند : شمروز خان مسجدی د عامه اړیکو ریس او ویاند
مسوول مدیر : داود نظری
کتنپلاوی: فرید نوښت ، فردین معرفتی ،محبوبه بابری
تخنیکي همکار : ،عتیق الله عتیق، لینا شعیبی
دیزاینر :
برېښنالیک : tamas@mof.gov.af
اړیکشمیرې: ۰۲۰۲۱۰۶۴۰۹

# پنجمین جلسۀ تخنیکی شورای عالی زیربناء دایر گردید





**پنجمین جلسه تخنیکی شورای عالی زیربناء به تاریخ ۵ قوس ۱۳۹۸ تحت ریاست محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء در مقر وزارت مالیه دایر گردید**

در این جلسه در رابطه به طرح پروژه شهرک رهایشی و تجارتی کاماز، معرفی این پروژه، اهداف، تحلیل مالی و گزینه های مشارکت، مودل تطبیق پروژه متذکره، تاثیرات اقتصادی و اجتماعی این پروژه، چالش های حقوقی و تخنیکی ساحه تصدی باربری مرکز(کاماز)، طرح مشارکت عامه و خصوصی پروژه رهایشی و تجارتی کاماز، مودل پیشنهادی برای تطبیق این پروژه، منظوری پلان پنج ساله برق افغانستان که شامل پلان تطبیق پروژه های جدید برق رسانی در تمام ولایات افغانستان به منظور تامین برق برای مشترکین جدید میگردد، کاهش ضایعات انرژی برق، بهبود در کیفت برق رسانی، وصل تمام مراکز ولایات به شبکه برق اصلی، رسیدن به خودکفائی در بخش انرژی برق، بهبود سیستم توزیع برق، انکشاف یک شبکه برق واحد، مصئونیت برق رسانی، چالش های فراه راه تطبیق این پروژه بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

# حکومت او نړیوال همکاران باید طبیعي پېښو ته د رسېدو لپاره اغېزمن پروګرامونه ترلاس لاندي ونیسي

**د مالیي وزارت سرپرست او د زېربنا په چارو کی د ولسمشری عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي،د۱۳۹۸لمریزکال د لېندی میاشتي په ۳ مه نېټه د نړیوال بانک له کاري ډلي سره په مالیه وزارت کي وکتل.**





دغه ناسته چې د سږ کال ژمي او وروستیو احتمالي وچکالیو لپاره د پروګرام جوړولو په موخهله طبیعي پېښو سره مبارزې ته د چمتووالي لپاره ترسره شوه، دواړو لوریو له طبیعي پېښو سره د مبارزې، احتمالي وچکالی او د خوړو د خوندیتوب په تړاو خبرې وشوې او د نظر څرګندوني وشوې.

په دې ناسته کې د نړیوال بانک ټیم ټینګار وکړ، چې له طبیعي پېښو سره د مبارزې لپاره باید مخکنی چمتو والی ولرو، څو د افغانستان حکومت وکولی شي له طبیعي پېښو را ولاړ زیانونه ټیټي کچې ته ورسوي. هغوی زیاته کړه، هغه سیمي او کلي چې له احتمالي وچکالی او د خوړو له نهخوندیتوبسره مخ دي وپېژندل شي څو وکولی شو د دقیق پلان او پروګرام له مخي له خلکو سره مرسته وکړو او له شته ورتیاوو په ګټه اخیستنه له ستونزو او طبیعي پېښو سره مبارزه وکړو.

د مالیي وزارت سرپرست وویل، چې د افغانستان حکومت دې مسئلې ته چمتووالی لري او اړوند موضوعات به د بېوزلۍ کمولو عالي شورای ته وړاندی کړي، څو د شورای نظرونه واخیستل شي. همدا شان اړوندي اداري باید له مرسته کوونکو بنسټونو سره له نږدې کار وکړي، څو د زیانمنو سیمو اړتیاوې وپېژندل شي او زموږ پروګرامونو له وضعیت سره متناسب او ځواب ویونکي وي.

# سرپرست وزارت مالیه با سفیر جدید جمهوری مردم چین مقیم کابل ملاقات تعارفی نمود



**محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء به تاریخ ۶ قوس ۱۳۹۸ با محترم وانگ یو، سفیر جدید جمهوری مردم چین مقیم کابل در مقر وزارت مالیه ملاقات تعارفی نمود.**

در این دیدار، سرپرست وزارت مالیه ضمن خوش آمدید به ایشان از کمک های چین به افغانستان تشکری نموده و از روابط تاریخی میان دو کشور یاد آوری نمود. سفیر چین مقیم کابل نیز از ماموریت جدیدش در افغانستان اظهار خرسندی نموده و ابراز امیداواری کرد که در دورۀ ماموریتش روابط دو کشور در عرصه های اقتصادی، تجارتی، فرهنگی و اجتماعی گسترش و تعمیق بیشتر یابد.

همچنان طرفین در رابطه به افزایش صادرات و واردات میان دو کشور از طریق خط آهن، انتقال و اتصال فایبر نوری از طریق دهلیز واخان بدخشان، مشکلات پروژه مس عینک، کمک های کشور چین در بخش تمویل پروژه های انکشافی و مشکلات مالیاتی آن بحث نمودند، سرپرست وزارت مالیه به تیم های تخنیکی هدایت داد تا موضوع مشکلات مالیاتی را در کوتاه ترین زمان ممکن بادرنظرداشت قوانین نافذه حل و فصل نمایند.
سفیر چین از اکمال اعمار انستیتوت ملی آموزش های تخنیکی و حرفه یی درکابل یاد آوری نموده و گفت که کشورش آماده است که آنرا به زودترین فرصت به افغانستان تسلیم نماید، سرپرست وزارت مالیه گفت که با ادارۀ مستقل تعلیمات تخنیکی و مسلکی صحبت می نماید تا این مرکز را طی مراسمی از کشور چین تسلیم گیرند.

## پیشرفت های چشمگیر حکومت افغانستان در عرصه تطبیق تعهدات دوجانبه با شرکای انکشافی



محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء مؤرخ ۴ قوس ۱۳۹۸ با محترم نصیر احمد درانی، وزیر زراعت، آبیاری و مالداری در مقر وزارت مالیه دیدار نمود.
در این دیدار، جانبین در رابطه به صادرات سبزیجات و میوه جات تازه افغانستان به کشور قزاقستان در بدل واردات گندم و بذر از آنکشور به افغانستان از طریق سیستم جنس به جنس و تشخیص چالش ها و مشکلات ترانسپورتی و ترانزیتی اموال صادراتی افغانستان بحث و تبادل نظر نمودند.
قابل تذکر است که در تفاهمنامه همکاری‌های اقتصادی و تجارتی میان افغانستان و قزاقستان صادرات سبزیجات و میوجات افغانستان در بدل واردات گندم و بذر از آنکشور از طریق جنس به جنس تذکر یافته است.

## د هیواد دیني علماوو په یوه ناسته کې له ملت څخه وغوښتل، څو د افغانستان اقتصادي ځان بسیاینې لپاره په بشپړه توګه مالیاتي دّین سرته ورسوي




د هیواد یو شمېر دیني علماوو، د۱۳۹۸لمریزکال د لیندۍ میاشتې په ۳ مه نېټه (مالیه ورکړئ، هیواد مو په ځان بسیا کړئ) ترعنوان لاندې په یوه ناسته کې د مطبوعاتي کنفرانس له لارې له مالیه ورکوونکو د مالیې ورکړې غوښتنه وکړه. دغه ناسته چې په کابل ستار هوټل کې ترسره شوه، د هیواد له ۲۵۰ زیاتو دیني علماوو، اقتصادي ځان بسیاینې ته د رسېدو لپاره د مالیې ورکړې په رول، د خلکو او حکومت دوه اړخیزه همکاري، د هیواد نافذه قوانینو په وړاندې د مالیه ورکوونکو نرمښت، اداري فساد سره مبارزه او یو شمېر نورو ګټورو مسایلو په تړاو خبرې وکړل.
د هیواد دیني علماوو، وویل، چې د مالیې ورکړه یوه دیني فریضه ده او د هیواد په ټولو وګړو باندې لازمه ده څو له کومې نیمګړتیا او بېغورۍ پرته په خپل وخت مالیه ورکړي. هغوی له ټولو مالیه ورکوو وغوښتل، چې مالي سوکالۍ او ځآن بسیاینې ته د افغانستان د رسېدو لپاره د مالیې په ورکړه او د نافذه قوانینو د پلي کولو لپاره نرمښت وښیي او همغږي شي.

د کابل د مدرسو او جوماتونو ټولنې رئیس ښاغلي مفتي عبدالشکور شاکري، د اسلام مبین دین له اړخه د مالیو اهمیت په اړه وویل: "د اسلام سترو فقهاوو له صراحت سره سم حکومت ته د مالیې ورکړه فرض ده. نوموړي زیاته کړه، کله چې موږ وکولی شو خپل لګښتونه له کورنیو سرچینو ترلاسه کړو، هغه مهال کولی شو ودې او پرمختګ ته ورسېږو." د کابل د مدرسو او جوماتونو ټولنې رئیس وویل، چې حکومت هم مکلف دی، څو را ټولې شوې مالیې د خلکو له اړتیا سره سم ولګوي. هغه زیاته کړه، د رسوالله په دوره کې هم له خلکو مالیه یا عشر اخیستل کېده او دا د خلکو فریضه ده، چې حکومت ته مالیه ورکړي. دا هغه عمل دی، چې د پیغمبر(ص) په ژوند او د راشدینو خلفاوو رضوان الله تعالی علهیم اجمعین او تابعین او تب تابیعنو په وخت کې هم پلی کېده.

**ادامه در صفحه 4**

## جلوگیری از قاچاق ۵۰۰ اثر باستانی افغانستان در میدان هوایی بین المللی حامد کرزی




محترم داکتر ولید تمیم، سرپرست معینیت عواید و گمرکات وزارت مالیه امروز طی مراسمی رسمی با حضور داشت محترم محمد رسول باوری، معین فرهنگ و هنر وزارت اطلاعات و فرهنگ و محترم محمد فهیم رحیمی، رئیس موزیم ملی کابل، ۵۰۴ اثر باستانی را که توسط کارمندان گمرکی میدان هوایی کابل از یک تعداد مسافرین که میخواستند بطور قاچاق این گنجینه های ملی را بخارج از کشور انتقال بدهند، ضبط و به ایشان تسلیم نمودند.

بر اساس معلومات، در بین آثار تازه به دست آمده، ۵۰۳ پارچه ضبط شده از گمرک میدان هوایی بین الملی حامد کرزی، ۱۹ پارچه از ریاست امنیت ملی به موزیم ملی تسلیم داده شد و یک اثر برگردانده شده از هانگ کانگ رونمایی گردید.
این آثار شامل ۵۰۲، سکه های طلایی، نقره یی، و مسی دوره های مختلف تاریخی، انگشتر و گوشواره های طلایی می گردد که توسط گمرک میدان هوایی بین المللی حامد کرزی به کمک کارمندان موزیم ملی افغانستان از نزد مسافرینی که قصد قاچاق آنرا داشتند ضبط گردید. و مجموعه دیگر آن به تعداد ۱۹ پارچه آثار مربوط به دوره های غزنوی و بودیزم میگردد توسط نیروی های ریاست عمومی امنیت ملی در دو بخش کشف و بدست آمده است و بخش سوم، یک اثر با ارزش بودایی است که قبلا در سال ۱۳۹۳ از موزیم ملی افغانستان غارت شده بود و اخیراً حین افتتاح نمایشگاه گنجینه های افغانستان در شهر هانگ کانگ توسط یک کلیکسیونر به هیاتی که به این مناسبت به چین رفته بود تسلیم داده شد و به موزیم ملی افغانستان انتقال گردید، این اثر یکی از با ارزش ترین آثار موزیم ملی افغانستان بود که از ساحه باستانی شترک در ولایت کاپیسا توسط باستانشناسان فرانسوی بدست آمده بود و مربوط قرن ۳ و ۴ میلادی میباشد.

محترم ولید تمیم، سرپرست معینیت عواید و گمرکات وزارت مالیه گفت، که حس مالکیت و حفاظت از منافع ملی و هویت تاریخی کارمندان صادق گمرکات امروز سبب سربلندی و فخر نه تنها من بلکه برای تمام کشور شده است. وی افزود که تمام کارمندان گمرک در هر گوشه کشور میباشند این وجیبه ملی و فرض هریک شما میباشد تا در امر جلو گیری از قاچاق آثار و دزدیده شدن هویت ملی خویش جدی عمل کنید.

معین وزارت اطلاعات و فرهنگ از کارمندان گمرک و کارمندان ریاست امنیت ملی تشکری نموده و افزود که از طریق همین تریبون برای جهانیان این پیام را میرسانیم که افغانستان امروز در حد و توان است که بتواند آثار فرهنگی خود را حفاظت، نگهداری و به نمایش قرار بدهد، از جهانیان تقاضا می نمایم که وزارت اطلاعات و فرهنگ و ریاست موزیم ملی را در امر برگرداندن آثار غارت شده افغانستان همکاری نموده تا باشد موزیم ملی افغانستان به همان شکوه و عظمت که قبلاً داشت برگردد.

برنامه در اخیر با اهدای تقدیر نامه ها برای کارمندان گمرکات میدان هوایی بین المللی حامد کرزی و کارمندان ریاست امنیت ملی اختتام یافت.




همدا شان هغوی زياته کړه، چې يو شمېر ماليه ورکوونکو د ماليې ورکړه چې د حکومت الزامي حق دی نه ده ورکړې او په بېلابېلو بهانو يې ترې تېښته کړې، او يو شمېر نورو مامورينو ته د ماليې ورکړې په ځای په بېشرمۍ سره د رشوت ورکړې ژمنه کوې، چې د اسلام مبين دين له مخې په څو جرمونو ککړ دي، لومړی يې مالياتي وجيبه چې د حکومت الزامي حق دی نه ده ورکړې، چې د فقهاوو د تصريح مطابق به له هغوی څخه د قيامت په ورځ پوښتنه وشي او بل دا چې رشوت ورکول حرام دي او هغوی په حرامه کړنه تورن دي.

د شيرشاه سوري جومات خطيب ښاغلي مولوي عزيز الله مفلح وويل:"رشوت يوه ناوړه دود دی، چې د هيواد د اقتصادي نظام ملا تير ماتوي، نوموړي زياته کړه، چې د يوه مسلمان په توګه زموږ ديني دنده ده، څو رشوت صفر کړو " د شيرشاه سوري جومات خطيب، له ټولو رئيسانو او مامورينو وغوښتل، قناعت وکړي او رشوت وانه خلي. هغه زياته کړه: " رشوت اخيستونکی او ورکوونکی او هغه څوک چې په منځ کې دربيم ګړی وي ملعون دي او د الله (ج) له رحمته لېري دي، ځکه چې د ملت حقونه يې تر پښو لاندې کړي".

په دې ناسته کې د هيواد ديني علماوو په کابل او ولايتونو کې د جوماتونو له ملا امامانو وغوښتل، چې مقتديانو ته د ماليې ورکړې په اهميت معلومات ورکړي، څو هغوی د دې ديني فريضې په ورکړه کې ګام پورته کړي.

د دې ناسته په پای کې دهيواد ديني علماوو په لاندې ډول پريکړه ليک صادر کړ.

**"ماليه ورکړئ؛ هيواد مو په خان بسيا کړئ"**

خپلواکي له ټرلتيا د خلاصون په معنی ده او زموږ ګران هيواد افغانستان له مالي او زماني پلوه هغه مهال خپلواک کېدای شي، چې ټول د ماليو ورکړې او د هيواد له نافذه قوانينو سره همغږي اومل پاتي شي. هغه هيوادونه چې له مالي پلوه په نورو هيوادونو پورې نه وي تړلي، د پرمختګ او هوساينې په لوري چټک ګامونه اخلي.
امنيت، پرمختګ، هوساينه او په نړۍ کې د افغانستان سياسي حيثيت په مالي خپلواکۍ پورې تړل دی. زموږ ګران هيواد هغه مهال په ځان بسيا کېدای شي، چې ماليه ورکوونکي خپلې ماليې په ټاکلي وخت ورکړي او د ماليو ورکولو بهير په ټول هيواد کې يو ډول او ساده پلی شي.



د حنفي فقهي ستر امام علامه ابن عابدين حنفي شامي رحمه الله وايي: " ما يَضْرِبُه السلطانُ على الرعية مصلحةً لهم يصير دَيْنًا واجبًا...."[رد المختار: (۲/ ۳۳۶)] ژباړه: بادشاه يا حاکم چې د رعيت د مصلحت او ګټې لپاره په هغوی ماليه ټاکی، دغه ماليه په هغوی پور ده، چې ورکړه يې واجب ده. ...."
د دې موضوع د حياتي اهميت لپاره د کابل علماوو رسنيز کنفرانس ترتيب کړ او لاندې پرېکړې يې وکړې:

۱- په ټولو ګرانو هيوادوالو غږ کوو، چې خپلې ماليې دې حکومت په ټاکلي وخت ورکړي، څو مو هيواد له مالي پلوه په ځان بسياشي.

۲- حکومت بايد د ماليو ورکړو ټول بهيرونه اسانه، رانه او په ټول هيواد کې يو ډول پلي کړي.

۳- حکومت بايد به تمام کارکنان فاسد، رشوت گيرنده و رشوت دهنده جزای علنی دهد.

۴- حکومت بايد په ښکلاييزو او غيري اړينو توکو د ماليو له لګولو په کلکه ډډه وکړي او پر ملت رحم وکړي.

۵- د هيواد له ټولو علماوو غوښتنه کېږي، چې له موږ سره دغه غږ غبرګ کړي.

## دستآوردها و فعالیت های وزارت مالیه در بخش های تصدی‌های دولتی، امور بیموی، ساده سازی پروسه‌ها و تطبیق اصلاحات در بخش استخدام از طریق کنفرانس مطبوعاتی با رسانه ها شریک گردید

محترم عبدالحبیب ځدران، معین اداری وزارت مالیه به تاریخ ۳۰ عقرب ۱۳۹۸ دستآوردها و فعالیت های وزارت مالیه را در بخش های تصدی های دولتی، امور بیموی، ساده سازی پروسه ها، اصلاحات در بخش استخدام، تقاعد و سائر بخش های مهم از طریق کنفرانس مطبوعاتی در مرکز رسانه های حکومت با رسانه ها شریک نمود.

در این کنفرانس که شماری از رؤسا و کارمندان وزارت مالیه اشتراک داشتند، معین اداری وزارت مالیه به رسانه ها در رابطه به قانون جدید شرکت های دولتی، استخدام هیئت نظارت شرکت های دولتی، امضای تفاهمنامه همکاری میان وزارت مالیه و اداره انکشاف زون پایتخت جهت اعمار تاسیسات معیاری برای واحدهای مرکزی و ولایتی این وزارت به خصوص گمرکات، اصلاحات در بخش خزینهٔ تقاعد، آغاز دوباره پروسهٔ بایومتریک متقاعدین، ایجاد صندوق خزینه تقاعد، اصلاحات بیموی، صرفه جویی در مصارف دولت، مصرف بودجهٔ انکشافی وزارت مالیه، عرضه خدمات، استخدام مسئولین منابع عوایدی و کارمندان از طریق رقابت آزاد و کمیسیون مستقل اصلاحات اداری، مبارزه علیه فساد اداری، نصب وسایل و تجهیزات تکنالوژی مدن در منابع عوایدی، جمع آوری بیش از ۲۳۵ میلیون افغانی بابت فروش فلزات داغمه دولتی به عواید دولت، روند اصلاحات در د آریانا افغان هوایی شرکت و ایجاد مجدد شرکت هوایی باختر و دیگر های بخش های مهم معلومات ارائه نمود.
معین اداری وزارت مالیه گفت:"رهبری وزارت مالیه متعهد به آوردن اصلاحات در تمام بخش های کلیدی این وزارت و مبارزه علیه فساد اداری می باشد، طی سال مالی جاری ما اصلاحات زیادی را در بخش های پروسهٔ استخدام، تصدی ها و شرکت های دولتی، امور بیموی، ساده سازی پروسه ها و دیگر بخش های مهم تطبیق نموده ایم. قرار است در اخیر سال مالی جاری تصدی های دولتی به منظور تبدیل شدن شان به منبع عوایدی برای دولت به شرکت های دولتی تغییر شخصیت حقوقی نمایند.

وی افزود:" اصلاحات یک روند تدریجی است و ما آنرا تا رسیدن به اهداف استراتیژیک خویش ادامه خواهیم داد، در سال جاری برای اولین بار ۱۵ تن بست های مستوفیت کارمندان عالی رتبه از طریق رقابت آزاد، بیش از ۲۰۰ تن از




طریق رقابت آزاد، معرفی ۴۱ تن از کارمندان مرکز و ولایات متهم به فساد، تذویر و رشوه، غرض حل و فصل دوسیه نسبتی شان به ارگان های عدلی و قضائی، تدوین اساسنامه های ۴۸ شرکت دولتی، فعال سازی سیستم سیگتاس در مستوفیت ها، طرح و تدوین قانون تکافل و آغاز مجدد پروسهٔ بایومتریک متقاعدین به منظور ایجاد شفافیت هرچه بیشتر در این بخش صورت گرفته است" .
معین اداری وزارت مالیه گفت که ما اصلاحات فوق را بسنده ندانسته، تلاش می نماییم تا طی سال های آینده اصلاحات بیشتری را تطبیق نماییم.
محترم عمر درانی، رئیس عمومی خزینهٔ تقاعد و محترم محمد موسی کاموی رئیس عمومی امور بیمه ها نیز در رابطه به تطبیق در رابطه به تطبیق اصلاحات، فعالیت های و دستآوردهای ادارات مربوطه شان صحبت نمودند.